دوديال ۲۰۲۶/۰۲/۱۷

# د افغانستان د علومو اکاډمی د جوړېدو

## د اووه‌ځلوېښتم کال په مناسبت

د افغانستان د علومو اکاډمي په اوسني تشکيل او جوړښت سره، په يوځلي نه ده جوړه شوې، بلکې دا له ۱۳۱۱ل. تر ۱۳۴۹ل. پورې او بيا تر ۱۳۵۷ پورې؛ پړاو په پړاو او له بيلابيلو خورو- ورو اکاډميکو مرکزونو او بنسټونوڅخه منسجمه شوه. لومړی د(افغان اکاډمی) په نوم او بيا ډېر وروسته (د افغانستان دعلومو اکاډمي/اکادمی علوم افغانستان) شوه، چې تاريخ يې داسې بيانوم :

د اکاډمي بنسټ په حقيقت کې هماغه‌د ۱۳۱۱ل.(۱۹۳۲م.) دکندهار پښتو ادبي انجمن و چې رئيس يې محمدعثمانخان بارکزی او (پښتو) مجله يې نشراتی ارګان و. وروسته پر۱۳۱۶ل.(۱۹۳۷م.)کې کابل کې پښتوټولنه د علمی او اکاډميک بنست په توګه جوړه شوه چې افتخاري رئيس يې د هغه وخت د معارف وزير، محمدنعيم خان و. پښتو ټولنې ته (پښتو اکاډمي) هم ويل کېده، لکه اوس چې پېښور کې د پښتو اکاډمي ده. په ۱۳۳۴ل. (۱۹۵۵م.) کې ورته اساسنامه جوړه او يو شمېر بهرنيو اکاډميو او دهيواد دننه علمی مراکزو سره يې تواميتونه‌وموندل. همدا وخت يې علمی کارکوونکو ته اکاډميکې رتبې(څېړونکی، څېړنيار، څېړنوال،څېړندوی،څېړنپال) و ټاکل شوې. کابل مجله ، هېواد او زيری اخبار يې نشرات وو، خو هېواد اخبار له ۱۳۲۸ل.(۱۹۴۹م.) وروسته ورڅخه جلا شو. هېواد اخبار هغه وخت د اروابناد عبدالرووف بينوا په مديريت چلېده. د پښتو ټولنې مشاعرې، سيمينارونه او علمي کنفرانسونه داير، علمي مقالې يې نشر اود افغانستان کالنۍ او دايرة المعارف يې چاپ کړل. هغه وخت د دولتي او شخصی (خصوصی)نويو تاسيس کېدونکو موسسو او بنسټونو نومونه د پښتو اکاډمی له خوا اېښودل کېدل چې زياتره تراوسه اعتبار لري .

هر هېواد خپله انسايکلوپيديا(دايرة المعارف) لري. افغانستان هم په ۱۳۲۰ل.(۱۹۴۱م.) کې د پښتو ټولنې په تشکيل کې د دايرة المعارف د ټولنې مديريت جوړ کړ. لومړنی مدير يې ميا محمد حسين و. پر۱۳۲۵ل. لوی مديريت شو او محمد هاشم پرديس (ميوندوال) يې مديرشو .

پر۱۳۲۷ل. کال د دايرة المعارف د نشر لړۍ شروع او تر ۱۳۲۸ل. پورې پينځو برخو(اجزاوو) کې د زرو مخونو په لرلو سره بشپړشو. د دري برخې مدير يې مير علی اصغرشعاع و، خو پښتو اډيشن يې لا نه و نشر شوی. وروستی(شپږم) جز يې پر۱۳۴۸(۱۹۶۹م.) خپور شو. پښتو اديشن باندې پر۱۳۲۹ل. کار پيل شو، مدير يې غلام جيلانی جلالی و. وروستی(اووم ټوک) يې پر۱۳۵۵ل. کال خپور شو. په دې توګه د آريانا دايرة المعارف لومړی دور(شپږ ټوکه دري او اووه ټوکه پښتو) نشرشو. د اريانا دايرةالمعارف دوهم دور مستقل نه و، بلکې د افغانستان دعلومو د اکاډمی تشکيل کې پر۱۳۸۵ل. پيل شو، چې دا وخت يې مرکز رياست ته اوچت شوی و، لومړی رئيس يې اروابناد ميوندي، بيا استاد رفيع او وروسته يې آغلی څېړنپوه ثريا پوپل رئيسه وه. راقم السطور د دايرة المعارف د انستيتيوت آمر وم. په دې دور کې مو پښتو او دري يو ځای شروع کړ. هر دري ارتيکل به پښتو ته او هر پښتو ليکل شوی آرتيکل مو دري ته ژباړل. په ليکوال شرط نه و چې دري يا پښتو يې وليکي. لکه هغسې چې پنځوسمو کلونو کې د هېواد جغرافيايی قاموس پيل شوی و، دا وخت يې هم دوام وموند او اتنوګرافی ورسره .

د راقم السطور وړانديز تل هغه وخت دا و چې د دايرة المعارف رياست دې د( دايرة المعارف او قاموسونو) د رياست په نوم شي او د دې رياست اډانه کې دې يو د افغان دايرة المعارف انستيتيوت اوبل د افغان قاموس انستيتيوت جوړ شي، خو د ادبياتو مرکز؛ په تېره سرمحقق نصرالله ناصر صاحب زما وړانديز رد او ويې ويل چې قاموسونه‌د ادبياتو څانګې پورې اړه لري. د اکاډمی مرستيال اروابناد سوبمن صاحب چې مخکې يې زما وړانديز نه و رد کړی، د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

سرمحقق ناصر ټینګار یې ومانه او زما وړاندیز یې بابېزه پرېښود. ما ټینګار ونه کړ، کار ته مو دوام ورکړ، وروسته دواړو برخو کې ګټور کارونه وشول او ښه پرمختګ راغی .

لکه چې وویل شول اریانا دایرة المعارف په پیل کې مستقل و، خپله کړنلاره یې لرله. دې سره یوځای یو څو نور اکاډمیک بنسټونه هم په پیل کې یا د معارف وزارت یا د مطبوعاتو مستقل ریاست/اطلاعاتو او کلتور وزارت اړوند فعال وو، چې دا هریو باید لکه پښتو ټولنه او د دایرة المعارف مدیریت د اوسنۍ دعلومو اکاډمی بنسټونه وبولو، لکه : د تاریخ ټولنه (۱۳۲۱ل.) دمطبوعاتو ریاست اړوند، مدیریې احمدعلی کهزاد او خپرونه یې(آریانا مجله)وه، ورسره یو ځای یې د(افغانستان) مجله د یونسکو په ژبو خپروله. بل مهم بنسټ د لرغونپوهنې(باستانشناسی) آمریت و. دا په ۱۳۴۵ل. د انستتیتوت په نوم د اطلاعاتو او کلتور وزارت اډانه کې جوړشو. لومړنی آمر یې دکتور شاهی بای مستمندی و. دوه مجلې یې خپرولې: هرات باستان او کوشاني مجله .

بل اکاډمیک مرکز د کوشاني څېړنو مرکز و، چې د یونسکو د څوارلسمي عمومي غونډې او ۳۲۳شمېره فېصلې سره سم جوړ شو، بیا د دغه نړیوال سازمان د پینځلسمې غونډې له پرېکړې سره سم یې ۱۹۶۸م. کال کې په ټوله منځنۍ آسیا کې د کوشانیانو په اړه څېړنې پیل کړې. په ۱۹۷۰م. کال په کابل کې د کوشانیانو یو نړیوال لوی کنفرانس دایر او د کوشاني څېړنو کار د علامه عبدالحی حبیبی تر ریاست لاندې په کار پیل وکړ. د کوشانیانو نړیوال کنفرانس کې دمنځنۍ آسیا پینځو هېوادو او ورسره د شوروی اتحاد، آلمان، فرانسې، انګلستان او امریکا د لرغونپوهنې د ادارو هیئتونو برخه لرله. له دغه نړیوال کنفرانس وروسته له ۱۳۵۴ل.(۱۹۷۵م.) وروسته د اطلاعاتو او کلتور د وزارت په تشکیل کې د کوشانی څېړنو نړیوال مرکز جوړ او بودجه یې د یونسکو له خوا وه. خپرنیز ارګان یې د«تحقیقات کوشانی» مجله وه چې لومړنۍ ګڼه یې پر۱۳۵۷ل. کال کې خپره شوه .

پر۱۳۵۴ل. دپښتو څېړنو نړیوال مرکز د یونسکوله خوا منظور او مقر یې کابل کې په ۱۹۷۵ل.کې جوړ شو. د پرانیستی کنفرانس کې یې د افغاني څېړونکو ترڅنګ د بهرنیو هېوادو څېرونکو لکه پروفیسور مورګنسترن او یو شمېر نورو ګډون کړی و. همدی کنفرانس کې (پښتو) مجله دیونسکو په ژبو منظور او خپره شوه .

پورته یاد شویو ټولو مراکزو او بنسټونو خپلې ځانګړې تګلارې لرلې. دا ټول خواره واره اکاډمیک مراکز وو، حال دا چې نورو هېوادو دعلومو اکاډمۍ لرلې. دا وخت د افغانستان د علومو د اکاډمي مفکوره رامنځته شوه، چې د ۱۳۴۶ل. کال د تلې پر۲۶مه د(افغان اکاډمی) په نوم یوه طرح د محمدظاهرشاه د زیږېدنې په مناسبت ترلاس لاندې ونیول شوه. لومړني اسناد، مرام او تشکیل یې جوړ او یو شهزاده یې افتخاری رئیس او د اطلاعاتو او کلتور وزیر یې آمرو تاکل شو. دا لومړنی طرح د اطلاعاتو او کلتور د وزیر اکادیمسن محمود حبیبی په وړاندیز او د پاچا په موافقه په هغه لویه غونډه کې چې کابل هوټل کې جوړه شوی وه، لوړو مقاماتوته وړاندې شوه. په دې غونډه کې د صدارت مرستیالانو عبدالله یفتلی او دکتور عبدالقیوم، د اطلاعاتو او کلتور دوزارت رهبري لکه محمدخالد روشان معین او د هغه وخت پوهانو او لیکوالو لکه: دکتور سید بهاءالدین-مجروح، خال محمد خسته، غلام محمد نوید، سید محمد قاسم رښتیا، محمد اسماعیل مبلغ، صالح-محمد پرونتا، عبدالوهاب طرزی، محمد صدیق روهی، میر محمد صدیق فرهنګ، محمد حسن کاکړ، محمد رسول امین، حبیب الله تږی، پوهاند عبدالحی حبیبی، دکتور عبداللطیف جلالی، حبیب الرحمان جدیر ، سید فقیر علوي د اصلاح ورځپاڼې مدیر، میر سعید بریمن د هیواد ورځپاڼې رئیس، کریم روهینا د انیس مسؤول مدیر، عبدالحمید مبارز د باختر آژانس رئیس، محمد کریم نزیهی، محمد ابراهیم صفا، محمد ابراهیم ثابت او محمد هاشم رحیمی ګډون درلود. دغه طرح تائید او د ۱۳۴۹ل. کال د وري په دویمه د سلطنت د لسم نمبر فرمان له مخې افغان اکاډمي رسماً تشکیل او شاه محمود خان یې افتخاري رئیس شو. پورته یاد شوی اکاډمیک خواره- واره مراکز پکې منسجم او دغه درې واحدونه یې لرل: د تاریخ د ټولنې ریاست، د آریانا دایرة المعارف ریاست او د پښتو ژبې د پرمختیا آمریت، یو اداري آمریت او د کتابتون مدیریت .

یوه خبره روښانه نه ده چې سره له دې چې اروانښاد روهي او استاد حبیب الله تږي د علومو داکاډمی طرح سره موافق او ورته خوشحاله وو، خو په دغه تشکیل کې یې د پښتو ټولنې د مدغم کولو مخالفت وکړ، ښایي موخه یې دا وه چې پښتو ټولنه همداسې خپلواکه پاتې شي(؟) .

له هغه وخته را وروسته د افغان اکاډمي افتخاري او مسلکی علمی غړي(د الفبې په ترتیب) دا وو :

عبدالهادی داوي، علی احمد نعیمی، غلام جان خان، غلام جیلانی جلالی، غلام حسن مجددی، غلام فاروق اعتمادی، ګل پاچا الفت، لعل محمد کاکړ، مایل هروي، محمد آصف سهیل، محمد ارسلان سلیمی، محمد ابراهیم ثابت، محمد ابراهیم خلیل، محمد اسماعیل مبلغ، محمد ابراهیم صفا، محمد حسن کاکړ، محمد رسول امین، محمد رفیق حبیبی، احمد علی کهزاد، امین الله زمریالی، حبیب الله تږی، خال محمد خسته، دکتور محمد اکرم، ذبیح الله رسا، سید احمد شاه هاشمی، سید بهاءالدین مجروح، سید شمس الدین مجروح، سید قاسم رښتیا، صالح محمد پرونتا، ضیا قاریزاده،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

عبدالاحمد جاوید، عبدالحی حبیبی، عبدالخالق واسعی، عبدالرووف بینوا، عبدالرزاق پوېل، عبدالشکور رشاد، عبدالواحد واجد، محمد شاه ارشاد، محمد صدیق روهی، محمد صدیق طرزی، محمد صدیق فرهنگ، محمد فرید، محمد قدیر تره کی، محمد کریم نزیهي، محمد گل نوري، محمد هاشم رحیمي، مولانا عبدالعزیز قربت، نور احمد شاکر او یارمحمد نظامی .

افغان اکاډمی هغه وخت د بیلابیلو څېړنیزو او فرهنګی واحدونو په یو ځای کولو سره تاسیس شوه. دا وخت نړۍ د ساینس برخه کې نوي بریالیتوبونه تر لاسه او دا پیړۍ د ساینس او تکنالوژي عصر بلل شوی و، نوځکه افغان اکاډمی ځان ته څو مهمي موخي وټاکلې :

۱. د ټولنیزو علومو په برخه کې باید د هېواد د ژبو د ریښو او پیل، د علمی متونو د څېړنې او د ادب د کره کولو په اړه کار وشي،

۲.دعلمی، ادبي او ټولنیزو نښېرونو خپرول،

۳.د نویو فکری او ادبی افکارو او د ټولنیزو مسایلو د ارزوني ژباړې ترسره کول او د لرغونپوهنې په ډګر کې څېړنه،

۴.د آریانانا دایرة المعارف د کړنلارې پرمخ بیول چې لږ مخکې پیل شوی و، دهغو په دوام د اختصاصی دایرةالمعارفونو خپرول،

۵.د ساینسي څانګو(طبیعي علومو) پرمختیا .

دا وخت افغان اکاډمي یو شمېر مهمي مقالي او مستقل تاریخی کتابونه نشر کړل. د بیلګې په توګه د فولکلور برخه کې«د خلکو سندری» پر۱۳۴۹ل. کال ، « د پښتو پخوانی تذکرې» پر ۱۳۵۰ل. کال. او «ابدالی توره» پر۱۳۵۲ل. کال. د دغو کتابو خپروونکی «د افغانستان اکادیمی» او اړوند څانګه یې د تاریخ ټولنه معرفي شوې وه. له دغو کتابونو سره یوځای مجلې هم نشر شوې وې .

څو کاله وروسته د ټولنې په پرمختګ او د عصروزمان غوښتنو سره سم« افغان اکادیمی» پراخه شوه او پربنسټ یې دافغانستان دعلومو اکاډمی/اکادمی علوم افغانستان رامنځته شوه. د دغه نوي علمی او فرهنګی لوی مرکز فرمان د ۱۳۵۷ل. د زمري پر پینځلسمه(۱۹۷۸) د دوو برخو(طبیعی علومو اوټولنیزو علومو) په لرلو سره صادر شو. د وزیرانو دشورا دارالانشا د ښوونې او روزنې وزارت ته په دې اړه لاندنی لیک واستاو، دلیک متن کټ مټ داسې و :

(د وزیرانو د مجلس تر ۹۸۷ فیصلی لاندې په دیارلسمه غونډه، نیټه ۱۵/۵/۱۳۵۷ش. کې د ښوونې او روزنې د وزارت د عرضپاڼې په اساس پریکړه وشوه چې: په افغانستان کې دعلومو د تکامل په مقصد د علومو د اکاډمی تشکیل چې د یوې لوړې علمي سویې کمیسیون په واسطه ترتیب او تنظیم شوی دی، د وزیرانو د عالي مجلس له خوا د عظمی صدارت په چوکاټ کې تأیید او منظور شو.)

د دغه لیک له صادرولو وروسته د علومو اکاډمی د ښوونې او روزنې(معارف) وزارت څخه خپلواکه او د یو جلا علمی اداري په توګه د کب د میاشتي پردوهمه نېټه یې کار پیل کړ. لومړنی رئیس یې ارواښاد دکتورګل محمد نورزی و چې له رتبې لوړ بست کې مقرر شو. په دې اقدام سره د پخوانی پښتوټولنې قانون چې د دې علمی اداري بنسټ و، د اجراءاتو سند شو. وروسته بیا هر ریاست او مرکز ته کاري کړنلاره او بیا د افغانستان د علومو د اکاډمی قانون جوړ شو .

لومړني رئیسان یې دا وو :

پوهندوی دکتور ګل محمد نورزی، اکادمیسین غلام مجدد سلیمان لایق، پوهنمل ګلداد، کاندید اکادمیسین سرمحقق دکتور علوم عبدالکبیر رنجبر ،اکادمیسین عبدالاحد عشرتی، سرمحقق محمد محسن فورملی، ملا محمد حسین مستسعد، مولوی خلیل الله فیروزی، سر محقق عبدالباری راشد، سرمحقق ثریا پوپل، ... او اوس یې رئیس شیخ فریدالدین دی .

د علومو اکاډمی وروستیو کې دریو برخو(بشری علوم، طبیعی علوم، اسلامی علوم)کې مرستیالان لرل؛ نوموړي یې دا دي: کاندیدای اکادمیسین محمد ظاهر افق، سرمحقق دوکتور دولت محمد لودین، کاندید اکادمیسین سرمحقق دکتور علوم عبدالکبیر رنجبر .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هغو ذواتو چې معاونیتونه یې پرمخ بیولي، دا وو: ، اکادمیسین پوهاند عبدالشکور رشاد،مولوی فریدالدین محمود، سرمحقق دکتورمحمد علم اسحاق زی،سرمحقق نصرالله سوبمن، سرمحقق محمد اسلم افضلی، پوهاند دکتور بلبل شاه جلال، کاندید اکادمیسین پوهنوال عبدالصمد سلیم، سرمحقق دکتور شاه محمد میوندی، مولوی شجاع الدین خدام، سرمحقق دکتور عبدالخلیل ظریفی، سرمحقق دکتور نجم الدین ترین،غلام ربانی ادیب، مولوی ذکی الله اشرفی، معاون سرمحقق میرمحمد شریف پاکرای، محقق عبدالباری راشد او مولوی سیف الرحمن سایف ستانکزی .

د اکاډمی علمی منشیان بیلابیلو وختونو کې دغه درانه ذوات وو:دکتورعبدالسمیع غفاری، محمد ظاهر افق، محمد حسین هلالی، پوهاند دکتورمحمد نادرهادی، سرمحقق نصرالله ناصر، سرمحقق دکتور الف محمد شرر، سرمحقق سید امین مجاهد، دوکتور احمدشاه عمر وردک او احمدی .

وروسته تر ۱۳۶۵ل. کال څخه د ژبو او ټولنیزو علومو ترڅنګ؛ د ساینسی برخو لکه: د کیهانی څېړنو مرکز، انستیتوت سیسمولوژی و تهیه و نصب دستگاه زلزله سنج، د اوبو د څېړنوانستیتوت، د لمر د انرژی کارولودیپارتمنت ، د باد د انرژی دکارولو څانګه، د جنیتکس، بیوتکنولوژی، جن انجینیرنګ او خاورې پوهنې څانګې جوړې او د زراعت، فزیک، ریاضی، کیمیا، بیولوژی، تخنیک، زمکپوهنې علومو، طب او فارمسی ته پاملرنه وشوه.د کرنې وزارت د کرنیزو څېړنو د ریاست رهبری هم د علومو اکاډمی په غاړه و .

د افغانستان دعلومو اکاډمی د بډای کتابتون لرونکی ده چې قیمتي خطي نسخې یې خوندي کړې دي. د خپرونو نوهمونه یې؛ اریانا، خراسان، پښتو، طبیعت، تبیان، زیری او تفکر دي. له دې برعلاوه هرکال د نویو څېړنو برخو کې نوې کتابونه‌نشروي. اوس دافغانستان د علومو اکاډمی د دایرۃ المعارف، دکوشانی څیړنو، د سیمه ییزو څیړنو اود اسلامی څیړنو مراکز ، لابراتوارونه، تشخیصیه کلنیک، د ونو او بوټو د مطالعې برخه، د اتنوګرافی موزیم او اداري څانګې لري .

د قانون له مخې، د اکاډمی رئیس انتخابی دی، د کار دوره یې څلورکاله ده. دغه علمی بنسټ د بیلابیلو هیوادو علمی مراکزو سره د اړیکو، د سیمینارونو او کنفرانسونودډایرولو، د علمی څېړنو د ترسره کولو، دهیواد دطبیعی زیرمو مطالعات او ارزونه، دملی اقتصاد د ودې په خاطر د نویو ساینسی او تکنولوژیکي پرمختګونو د مناسب کارولو د لارو موندل، د علمی، فرهنګی، اقتصادی او ټولنیزو پلانونو د طرح، ارزولو او تطبیق کې مرسته، د غیر اسلامی او بیګانه اثراتو مقابل کې دربدل او دهغو د نفوذ مخنیوی، ملی فرهنګ ته ارتقا ورکول او په ټوله کې په هېواد کې د علومو د کمی او کیفی ودې تامینول دي .

د علومو اکاډمی د اتنوګرافی د موزیم او د خپل کتابتون ترڅنګ؛ یو بل کتابتون چې ښاغلی حبیب الله رفیع ډالی کړی او د پوهاند امان الله حیدرزاد د پژګر او انځورګر د آثارو زېرمه لري د اتنوګرافی موزیم کې اېښودل شوي دي( استادحیدرزاد د۲۰۲۶ د جنوري میاشت کې له هېواد بهر وفات شو جنتونه یې نصیب شه). دعلومو اکادمی درېیم پوړ کې د میناتوري د آثارو یو نندارتون هم لري. داکاډمی مرکزی ودانی د نوي ښار د شاببوجان د کوڅې پای کې ده، چې د کابل د کورنیو جګړو له پای ته رسېدو وروسته دولسمشر حامدکرزي د فرهنګی مشارو دروند او منلي استاد ښاغلی سرمحقق زلمی هیوادمل په پرله پسې هڅو او سید ه څارنه جوړه شوه. ورسره پخوانی ودانی ترمیم او د اتنوګرافي موزیم شو. مرکزی تعمیر د وړکتون او ترانسپورت او پخلنځي الخاقیې هم لري. بله ودانی یې زمبق څلور لاره کې او یوه بله دوه پوړیزه پخوانی ودانی یې د شیرپورڅلورلاره کې ده .

د علومو اکاډمی په وروستیو کې د نورو علمی پروژو ترڅنګ؛ دوه لویې پروژې عملي کړی: یوه یې د آریانادایرۃ المعارف دویم دور، په شپږوټوکونو کې په دري او پښتو ژبو او بل یې دهېواد د اتنولوژی پروژه‌وه. د دایرۃ المعارف لپاره د آرتیکلونو د لیکلو او د تثبیت او ارزونې لپاره د اکاډمی دعلمی غړو ترڅنګ د پولیتخنیک، طبي پوهنتون، کابل پوهنتون او ننګرهار پوهنتون استادانو کار وکړ. د دایرۃالمعارف د دوهم دور لومړی ټوک په ۱۳۸۵ل. کال چاپ ته چمتو او د نبراسکا (پخوانی اریانا) مطبعې سره یې د چاپ قرار داد وشو. راقم الحروف دا وخت د دغه انستیتیوت مشر او آغلی سرمحقق ثریا پوپل د مرکز رئیسه وه. ټول اوو تنو دغه انستیتیوت کې کار کاو .

په ۱۳۸۱ل. کال د لرغونپوهنې انستیتیوت له اکاډمی څخه جلا او د اطلاعاتو او کلتور وزارت سره وتړل شو، خو علمی رهبری یې د اکاډمی په غاړه وه، په ۱۳۹۰ل. کې بېرته اکاډمی سره وتړل شو. د کابل د جنګونو له پیل مخکې ۷۰۰تنه‌دانشمندان او متخصصان په بیلابیلو دیپارتمنتونو کې په علمی کارونو بوخت وو، تر ۱۳۸۱ل. د اکاډمی علمی کارونه خنډونو سره مخ شول، ترڅو چې بېرته تشکیلات او بودجه بشپړه شوه. په ۱۳۸۴ل. کې یې یو شمیر بستونه تنقیص شول. په دې کال د ښځینه کارکوونکو سلنه ۱۷ ٪ ته رسېدله .

تېر وخت کې چې کومو پوهانو د آثارو د شمېر له پلوره زیات کار کړی و، دا دي :


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پوهاند دکتور احمد شاه جلال،پوهندوی دکتور اسدالله حبیب، پوهاند دکتور بلبل شاه جلال، دکتور حیدر مسعود، دکتور سامیه عبادی روشنگر، عبدالرحمن پهوال، عبدالرحیم خوشدل، عبدالرشید رؤف، عبدالسمیع غفاری، پوهنوال عبدالصمد سلیم، عبدالغفور باهر، سرمحقق دکتور عبدالکبیر رنجبر، عبدالمجید نباتی، دوکتورعلی احمد، غوټۍ خاورې، ش. یارقین، مهرزاد بلوچ، دوکتور ستانکزی، پوهاند شاه علی اکبر شهرستانی، غلام ابوبکر، پوهنوال دکتور غلام محمد بهرام، پوهاند فقیر محمد زمری، گل احمد خالدی، محمد ابراهیم عطایی، محمد اعظم سیستانی، محمد اکرم عثمان، دوست شینواری،محمد انور نومیالی، معتمد شینواری،محمد امین امام، محمد حسین هلالی، پوهاند محمد رحیم الهام، سرمحقق محمد صدیق روهی، محمد ظاهر افق، دکتور محمد یعقوب واحدی، غ.ا. ترین، شریف الله خان شریفی، دکتور محمود حبیبی، دوکتور مهر محمد اعجازی، پوهاند میر حسین شاه، سیدمحی الدین هاشمی، ع.یاد(طالبی)، فرهمند، عبدالواجد واجد، بشیرافغان، سید امین مجاهد، شرر، محمدشریف ځدراڼ، دوکتور سکندر حسینی، استاد لطیفه قریشی، داکتراحمدشاه وردک، مولوی بصیرت او ګڼ شمېر نور( دا چې د ګڼ شمېرحقدارو استادانو نومونه اوس را یاد نشول، بخښنه غواړم. دغې لیکنه کې یواځې په لنډ ډول د افغانستان د علومو د اکاډمی تاریخچه یاده شوه، د پوهانو اودانشمندانو نومونه ضمنی یادشول). د لیکنی موخه د دغه علمی -تحقیقی بنسټ کرونولوژیکه معرفی او د دیپارتمنتونو او ریاستونو پیژندنه وه. دلته به د ټولو درنو علمی ذواتو او څېړونکو د نومونو او ځانګو یادول ډېر وخت او ځای ونیسي، نو دا کار به بل وخت ته پرېږدم .

په ټوله کې وروسته تر ۱۳۹۰ل. د اکاډمی د اوج کلونه مخ په ځوړ شول. رهبری متفرقه، دسپلین ضعیف، له بهر څخه لاسوهنې پیل، علمی ارزښتونه پایمال او د(جوان سازی) د سیاست له مخې تجربه لرونکی کادرونه بی واکه شول. دا وخت زیاتره پخواني استادان وفات او بیا وروسته تر ۱۴۰۰ ل. زیاتره مهاجر شول.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ